دافغانستان اسلامي جمهوریت

دپوهنې وزارت

خبرپاڼه

# ایکویپ

دپوهنې دکیفیت لوړولو ملي پروګرام



لسمه ګڼه

د ۱۳۹۲ لمریز-زمری، وږی

July-Aug 2013




• په دې ګڼه کې:

- د زده کوونکو غیر حاضري یوه ملي ستونزه
- مېرمن ثریا د پوهنې د ډګر اتله
- امله والو میلیونونه افغانی...
- کیسه انځوریزو کتابونو وېشنه
- دریچه نور ښوونځي شورا...
- استاد الفت لېسې سره پراخې مرستې
- د کندهار یوه مخور ښوونځي ته...

## د زده کوونکو او ښوونکو غیرحاضري یوه ملي ستونزه

د پوهنې سیستم د میلیونونو ماشومانو او تنکیو ځوانانو پر عقیدوي جوړښت، د کرکټر او شخصیت پر تشکل او د ذکاوتي او فکري استعدادونو پر وده، ډېره لویه اغېزه درلودلای شي. خو د معارف دغه ګټه هغه مهال رسېږي، چې ماشومانو ته د معلوماتو د درک، هضم او عملي تطبیق زمینې او د ذهني، بدني او ټولنیزو مهارتونو د ودې فرصتونه برابر شي.

د ښوونکو له خوا د فعالې زده کړې ښه پلې کول د دغه ډول فرصتونو د چمتو کولو مهمه لاره ده، خو په دې شرط، چې ماشوم یا نوی ځوان په نیمه لاره کې تعلیم ته شا نه کړي او محترم ښوونکي ډېر غیرحاضر نه وي.

د افغانستان دوې لویې ملي ستونزې د ماشومانو او ځوانانو لخوا د ښوونځي او زده کړو پرېښودل او د ښوونکو ډېرې غیر حاضرۍ دي. دا چې د تعلیم نه بشپړېدل د زده کړو ګټه نیمګړې کوي او د ښوونکو ناسوبتیا د ماشومانو پر زده کړې منفي اغیزه اچوي، زموږ هیله له ګرانو ټولنیزو کارکوونکو څخه داده، چې د پوهنې د نورو خدمتګارانو سره په همکارۍ، د زده کوونکو او ښوونکو د ناسوبتیا د کمولو له پاره نوي تدابیر ونیسي او هغه ماشومان او تنکي ځوانان بېرته ښوونځیو ته جذب کړي، چې زده کړې یې پرې اېښې دي. په دې لاره کې هر ډول پرمختګ به دې ته لاره هواره کړي، چې زموږ د هېواد بچیان د کلکې عقیدې، لوړو شخصیتونو، ګټور علم او کمال خاوندان شي.

موږ ستاسو د نېکو او مثبتو غبرګونونو، تبصرو او لارښوونو په تمه یو څو وکولای شو اړوند او په زړه پورې موضوعات په خپله خبرپاڼه کې ځای پرځای کړو. مهرباني وکړئ خپلې سالمې نیوکې او وړاندیزونه په لاندې برېښنالیک راواستوئ: equip.moe@gmail.com

## مېرمن ثریا د پوهنې د ډګر اتله


مېرمن ثریا د هغه ښوونځي په مخکې چې د دې په هڅو ودان شوی.

خاشرود د نیمروز ولایت له مرکزه سل کیلومتره لرې پرته نا امنه او ګڼ مېشتې ولسوالي ده، چې له هلمند او فراه ولایتونو سره ګډه پوله لري.
د پروګرام د کړنلارې له مخې د ۱۳۸۹ کال په پای کې پام کې وه، چې د ښوونځي شورا د بي بي آمنې ښوونځی ودان کړي، خو د نا امنیو له امله د شورا غړي او سیمې استوګن چمتو نه وو، چې د ښوونځي ودانۍ جوړولو ته ملې را بډوهي.
د دې وېره وه، چې د بي بي آمنې ښوونځي څلور خونیزه ودانۍ دې په بله ولسوالۍ کې جوړه شي، خو د اتلې ثریا له خوا چې د شورا مشره ده، ښوونځي جوړولو ته سینه وډبول شوه. نوموړې بې له دې، چې د ځان پر وړاندې پرتو ستونزو او ننګونو ته وګوري، د ودانۍ جوړول یې په خپله غاړه واخستل.
په زړه پورې دا ده پرته له دې، چې د ښوونځي جوړولو د لګښت دویم او دریم قسط پیسې ور ورسیږي په پور یې له بازاره تعمیراتي مواد واخیستل. د خاشرود له ۱۸ بابه ښوونځیو څخه د بي بي آمنې ښوونځی لومړنی ښوونځی دی، چې په دې ولسوالۍ کې د ۱۳۹۰ کال په وري میاشت کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
سره له دې، چې د ځینو لاملونو له کبله د قسطونو پیسې په خپل وخت ور ونه رسېدې، دغې اتلې ښځې د معارف د کیفیت لوړولو ملي پروګرام( ایکویپ) ولایتي دفتر ته لیکلې پاڼه وسپارله، چې که خدای مه کړه دا ووژل شي، پورونه یې هغو دوکاندارانو ته وسپاري، چې تعمیراتي مواد ترې اخیستل شوي دي.
اوسمهال د بي بي آمنې ښوونځی ۷۰۰ تنه زده کوونکي لري او ټول لګښتونه یې د پوهنې د کیفیت لوړولو ملي پروګرام(ایکویپ) له خوا ورکړل شوي دي. که څه هم د ښوونځي جوړولو مصارف د ایکویپ پروګرام له لوري ورکړل شول، خو مېرمن ثریا د هېواد په تاریخ کې د تعلیمي ډګر د ملالۍ په نوم خپله اتلولي ثبت کړه.

---

## امله والو میلیونونه افغانۍ د ښوونځي ودانولو ته ځانګړې کړې


د دره نور ولسوالۍ املې ښوونځی

د ننګرهار ولایت دره نور ولسوالۍ د املې ذکورو منځنی ښوونځی، چې زده کوونکو یې یو کال وړاندې د نجونو د منځني ښوونځي له ودانۍ ګډه پورته کوله او ځانګړې ودانۍ یې نه درلوده. د یاد ښوونځي اداري شورا او ولس په ګډو هلو ځلو سره وتوانېدل، چې د جرمن اګرو اکشن او ملي پیوستون ادارو له پیسو څخه په یوه همغږۍ (۵۶) لکه افغانۍ د نورو رغنیزو پروژو پرځای د هلکانو د منځني ښوونځي ودانۍ جوړولو ته ځانګړې کړي.
د دغې شورا غړو د ۱۳۹۱ کال په غبرګولي میاشت کې (۴۴۰) زره افغانۍ له خپلو شخصي پانګو څخه راغونډې کړې او د ودانۍ له پاره یې نیم جریب ځمکه را ونیوله. د خلکو له لارې جوړ شوی دغه منځنی ښوونځی سږکال په دې سمسوره دره کې د دولس خونو درلودونکې ښکلې ودانۍ لري، چې د همدوی ماشومان په کې زده کړې کوي.
د املې ذکورو منځني ښوونځي د موټریزې لارې او انګړ د نه شتون دوه نورې ستونزې هم درلودې، چې ښوونکو او د شورا غړیو له خپلو معاشونو او لګښتونو څخه ورته (۳۳۰) زره افغانۍ راغونډې کړې او د لارې له پاره یې ورته دوه بسوې ځمکه راونیوله. دغې فعالې شورا ستونزې یوه پر بلې پسې اوارې کړې او د روان کال له زمري میاشتې راهیسې ښوونځي ته د ملي پیوستون د (۱۳) لکه افغانیو په لګښت د (۲۰۰) متره انګړ یا احاطې او تشنابونو جوړولو په چارو بوخته ده.



د یوه ښوونځي په کتابتون کې کیسه انځوریز کتابونه

## د کابل ښار او ولسوالیو په ښوونځیو کې د کیسه انځوریز کتابونو وېشنه پیل شوه

د کابل ښار ۱۷ ګونو ناحیو او ولسوالیو د ښوونځیو په کتابتونونو زرګونه ټوکه کیسه انځوریزو کتابونو د وېشنې لړۍ د هوپ (Hope Book ) موسسې له خوا د پوهنې د کیفیت لوړلو ملي پروګرام د ټیم په فعالې ونډې سره پیل شوه. د کابل ښاري ښوونځیو ته د کتاب وېشنې مسوول ګروپ په استازي توب آغلې لینا فیض وویل دغه کتابونه د ختیځ بیارغونې موسسې( کور) د اجرائیوي مشر ډاکټر محمد فرید بزګر له خوا د پوهنې د کیفیت لوړولو ملي پروګرام ته ډالۍ شوي، چې د وېش بهیر یې د روان ۲۰۱۳ میلادي کال د جولای په شلمه نېټه پیل شو او تردې مهاله یې په لسمه، یولسمه،دولسمه، پنځه لسمه، پنځمه او درېیمې حوزو کې پای ته رسولی او ډېر ژر به یې نورو ښاري حوزو ته هم وغځوي.

آغلې فیض همداراز وویل، د کابل ښار ټولو ښوونځیو ته به درې زره ټوکه کتابونه ورسوي او د اړوند ښوونځیو کتابتونونو ته به یې وسپاري. د لینا فیض په وینا، د کتاب وېشنې روان بهیر د ټولنیزخوځښت د مرکزي ټیم له خوا د پوهنې کیفیت لوړولو ملي پروګرام د ولایتي ټیم په ملتیا پرمخ وړل کیږي.

د کابل ښار د ښوونځیو یوه بله مسووله نازپرور هادي په دې اړه وایي، چې کیسه ډوله انځوریز تشویقي کتابونه د کوچنیانو له پاره ډېر ګټور دي.

د دې په وینا، دغه کتابونه افغان لیکوال ادریس شاه لیکلي او راغونډ کړي دي، چې « د ماشومانو په ژبه د فولکلور بډاینه او خوندیتوب یې بللی شو».

د کابل ښار پنځه لسمې حوزې اوسېدونکی او د ښوونکو د روزنې موسسې پخوانی استاد احسان الله ابراهیم خېل وایی د انځوریزو کتابونو لړۍ ماشومان په انځوریزه ژبه له خپل تمدن سره اشنا کوي، مهارت او وړتیاوې یې لوړوي، د لوستلو، لیکلو، اورېدلو او لیدلو مهارتونو ته یې وده ورکوي؛ د ګډ کار روحیه پیاوړې کوي او په پایله کې دغه کتابونه د ماشوم، کورنۍ، ښوونځي او ټولنې ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا لامل کیږي.

د یادونې وړ ده، چې دغه انځوریز کتابونه د انساني علومو د مطالعاتو انستیتیوت(ISHK) له خوا چاپیږي او په ښوونځیو وړیا وېشل کیږي. د پوهنې د کیفیت لوړولو ملي پروګرام مشرتابه له هوپ بوک موسسې د منني ترڅنګ د هېواد د پوهنیز بهیر د ودې له پاره د دغه شان همکاریو د داوم غوښتنه هم کوي.

## د دریچه نور ښوونځي شورا، زده کړې پرېښودونکي بېرته جذب کړل

دریچه نور لومړنی ښوونځی، چې د کابل ښار د قرغې په نوآباد کې موقعیت لري، شپاړس کاله وړاندې پرانستل شوی دی. دغه ښوونځی د شپږسوه شپږاتیا( ۶۸۶ ) نجونو په ګډون څوارلس سوه لس( ۱۴۱۰ ) تنه زده کوونکي لري، چې د ۲۳ تنو ښوونکو له لوري یې د زده کړو چارې پرمخ وړل کیږي.

د یاد ښوونځي اداري شورا پنځه لس(۱۵ ) تنه غړي لري، چې شپږ تنه یې ښځې دي. شورا د تشکیل له پیله تر اوسه ګڼ شمېر د یادولو وړ فعالیتونه ترسره کړي، چې د بېلګې په ډول یې د سرېنیو هغو یادونه کوو:

- د شورا غړي توانېدلي ( ۱۰۰ ) تنه هغه ماشومان بېرته ښوونځي ته جذب کړي، چې زده کړې یې نیمګړې پرې اېښې وې. شورا همدارنګه بریالۍ شوې، چې د ناسوبتیا ګراف والدینو سره د لیدنو کتنو او لاملونو معلومولومخې راټیټ کړي او له دېرش(۳۰) ټولګیو څخه تدریسي څارنه وکړي.
- تر اوسه د شپاړس لکه اوه لس زره افغانیو په ارزښت(۲۳) بیسوې ځمکه ښوونځي ته وقف شوې ده.
- ښوونځي ته تر ودانۍ جوړولو وړاندې د کرایي کور« پنځه میلیونه اوه سوه شپېته زره افغانۍ» د میاشتنیو کرایو له پاره د شورا په هڅو یو تن معارف پالي مخور محمد بشیر اسد ورکړي.
- د ښوونځي دوه پوړیزې شپاړس خونې لرونکې ودانۍ له بنسټ اېښودنې تر ګټې سپارنې ټولې مالي او تعمیراتي چارې په ښه توګه د شورا له لوري کنټرول او څارل شوې دي او د شورا په هڅو د ودانۍ د ننه شپاړس(۱۶ ) پایې کمپیوټرونه، رنګمالي، فرشونه او څوکۍ، د درې سوه پنځوس زرو افغانیو په مرسته چمتو او ترسره شوي دي.

## د استاد الفت لېسي سره پراخې ولسي مرستې شوې دي

د پښتو ادب د آسمان له پنځو ستورو څخه يو هم استاد ګل پاچا الفت دی، چې د کابل- جلال آباد لويې لارې پر سريې ښکلی مزار د لغمان ولايت د عزيز خان کڅ په کلي کې آباد دی او زيارت ته مخامخ د ده په نوم د آبادې لېسې پرتمينه ودانۍ د مينې او عاطفې د لارويو په زړونو کې د هېواد د متوازن معارف د پرمختګ هيلې راټوکوي.
د استاد الفت ليسه، چې ۳۵۰۰ زده کوونکي لري د يوې فعالې اداري شورا پر مټ په کې ګڼ شمېر پرمختايي چارې تر سره شوي دي.
د عزيزخان کڅ اوسېدونکو سږکال د دغې لېسې د هلکانو په څانګه کې د يوه محراب جومات چارې پيل کړي، چې د ۱۱۵ زرو افغانيو په لګښت به په نيږدې راتلونکې کې بشپړې شي.
د کلي بهر مېشتو ځوانانو اداري شورا ته ۳۷۰ زره افغانۍ رالېږلې دي، چې د دوه پخو خونو رغنيزې چارې يې پرې بشپړې کړې دي.
د شورا يو تن غړی او معارف پال شخصيت انجينر قاهرخان لېسې ته په خپل شخصي لګښت يو کتابتون جوړ کړی، چې سلګونه عنوانه کتابونه لري.
دغه ډول د سيمې يو بل مخور يوسف جبارخېل د ۱۶۷ زرو افغانيو په لګښت الفت لېسې ته ۸ پايې ډېسک ټاپ کمپيوټرونه او د روښانه



د الفت لېسې اداری شورا انځور

کولو له پاره يې په ۱۷ زرو افغانيو يوه پايه د برېښنا د توليد جنراتور اخيستی، چې لسګونه زده کوونکي په کې زده کړې کوي.
د لېسې فعالې شورا د سمسور درسي چاپېريال په موخه سږنی پسرلی ۲۰۰ ميوه لرونکی او بې مېوې نيالګي د لېسې په انګړ کې کېنولي.
پورتنيو فعاليتونو په يادولو سره ويلای شو، چې د استاد ګل پاچا الفت لېسه د قرغيو ولسوالۍ په ۴۸ بابه ښوونځيو کې نمونه يي بڼه لري.

## د کندهار يوه مخور ښوونځي ته خپله ځمکه وبښله

د کندهار ولايت ارغنداب ولسوالۍ د شاه اشرف ښوونځي ته، چې کله روان کال ودانيزې چارې منظورې شوې، له منظورۍ سره سم د تابين سفلی خلک ډېر خوښ او د ښوونځي شورا هرراز مرستو ته چمتو شوه. کله، چې انجينران ساحې ته لاړل، هلته د ودانۍ له پاره ځانګړې شوې ځمکې بسنه نه کوله او شونې نه وه، چې نقشه په کې پلې شي.
د دغه ولايت د ولايتي شورا منشي حاجي حفيظ الله په اته سوه زره(۸۰۰۰۰۰) افغانيو شخصي لګښت د ښوونځي له پاره ځمکه واخيسته، خو بيا هم نقشه په کې د پلې کېدو وړ نه وه. په پايله کې د پوهنې کيفيت لوړولو ملي پروګرام( ايکويپ) ولايتي مشران او انجينران اړ شول، چې د ښوونځي له شورا سره بېړنۍ غونډه ونيسي څو منظوره شوې ودانۍ بلې ولسوالۍ يا ولايت ته ونه لېږدول شي.
حاجي شاه اکا، چې د ولايتي شورا د منشي تره دی او وارله مخه يې هم د شاه اشرف ښوونځي ته خپله ځمکه ورکړې وه، يو ځل بيا سرښندنې ته چمتو شو او ۷۳۵ مربع متره نوره شخصي ځمکه يې هم ښوونځي ته وقف کړه.
اوسمهال د حاجي شاه اکا د مېړانې له برکته د ښوونځي د ودانۍ چارې روانې دي، چې ډېر ژر به په يو جريب اوه سوه پنځه دېرش متره ساحه کې د شاه اشرف ښوونځي نوې ودانۍ د اتو درسي، دوو اداري، دوه د کمپيوټر او لابراتوار خونو په درلودو سره د دغې سيمې اولادونه په خپله غېږه کې را ونغاړي او د پوهنې په بڼ کې به تر روزنې وروسته، د هېواد او ملت د چوپړ جوګه شي.